الْبَخِيلُ مَنْ ذُكِرْتُ عِنْدَهُ فَلَمْ يُصَلِّ عَلَيَّ». «بخيل هغه څوک دی چې زه ئې په وړاندې یاد شم او درود راباندې ونه وایي

له حسين بن علي بن ابي طالب رضي الله عنهما څخه روایت دی وایي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمایل: «الْبَخِيلُ مَنْ ذُكِرْتُ عِنْدَهُ فَلَمْ يُصَلِّ عَلَيَّ». «بخيل هغه څوک دی چې زه ئې په وړاندې یاد شم او درود راباندې ونه وايي».

[صحيح دی] [الترمذي او النسائي په سنن الكبرى او احمد هم روایت کړی دی]

رسول الله صلى الله عليه وسلم د هغه د نوم، لقب او صفت په اوریدلو سره پر هغه د درود نه ویلو په اړه خبرداری ورکړی او فرمایلي یې دي چې: بشپړ بخیل هغه څوک چې زه یې پر وړاندې یاد شم او درود راباندې ونه وایي، ځکه چې: لومړی: دا په داسې یو څه بخل دی چې له امله یې هیڅ شی له لاسه نه ورکوي؛ نه لږ او نه ډېر، نه پرې پیسې ورکوي او نه پرې زیات زیار باسي. دویم: دې انسان په خپل ځان بخل وکړ او په رسول الله صلى الله عليه وسلم د درود ویلو له امله یې له ثواب څخه محروم کړ؛ ځکه چې په درود نه ویلو سره یې د داسې یو حق له ادا کولو ډډه وکړه چې ادا کول یې پرې لازم و، ځکه چې امر ورته شوی او ثواب پرې تر لاسه کیږي. دریم: په درود ویلو کې د رسول الله صلى الله عليه وسلم د حق یوه برخه ادا کېږي، ځکه چې هغه مور پوه کړي یو، مور ته یې لارښوونه کړې، او همغه مور د الله جل جلاله لارې ته بللي یو، او دا وحی او دا شریعت یې مور ته راوړی، نو هغه -له الله جل جلاله وروسته- زمور د هدایت لامل دی، نو څوک چې پرې درود نه وایي هغه په خپل ځان او خپل نبي صلى الله عليه وسلم بخل کوي، او تر ټولو کوچنی حق یې نه ادا کوي.

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/5403